

د ځوانانو لپاره: په ښوونځي کې ستاسو حقونه او مسؤليتونه

په امريکا کې، ټول ماشومان او ځوانان د ورېا عامه زده کړو حق لري، که د هغوی د کډوالۍ حالت، ژبه، يا د زده کړې کچه هر ډول وي.

د ماشومانو او ځوانانو حقونه:



له خپل عمر د نورو زده کوونکو سره په يوه ټولګي کې کېنول کېدل



په ټولو مضمونونو کې د خپل ټولګي لپاره مناسب درسي مواد ترلاسه کول



په ښوونځي کې د انګليسي زده کوونکي په توګه مرسته ترلاسه کول



د زده کړې خوندي، منظم، او له نشه يي توکو پاک چاپېريال لرل، چې له زوروالي، ازار، او هر ډول تبعيض څخه پاک وي



،د ښوونځي په پروګرامونو کې ګډون کول لکه د تکړه زده کوونکو يا معلوليت لرونکو زده کوونکو پروګرامونه، کلبونه، او سپورتونه

د ماشومانو او ځوانانو مسؤليتونه:

- [ ] په منظم ډول ښوونځي ته تلل
- [ ] په وخت ښوونځي ته رسېدل
- [ ] هره ورځ د زده کړې لپاره چمتو اوسېدل
- [ ] د ښوونځي د کالیو اصول منل
- [ ] د ښوونځي په خوندي او منظم ساتلو کې مرسته کول
- [ ] له نورو زده کوونکو سره جګړه مه کوئ، ښوونځي ته وسلې يا نشه يي توکي مه راوړئ، په ناسمو ډلو کې ګډون مه کوئ، سپکې خبرې مه کوئ، او ټور مه ګواښئ.
- [ ] د نورو د شيانو او حقونو درناوی کول